د راحت زاخیلي د زېږېدنې د سلمې کالیزې په ویاړ

# نه هیریدونکی سرې

## راحت زاخیلي

د ۱۳۴۲ ش کال دجوزا په اوایلو کي کابل راډیو دا حسرتناک خبر خپور کړ چي د پېښور مشهور لیکوال اودپښتو ادب یوه تکړه استاد نه دې جهانه یون وکړ، او په ابدي بیلتون له موږه جلا سو، چي دادی اوس په ۱۴۰۲ هـ ق کال کي ئې د زوکړي سل کاله پوره کیږي.

سید راحت الله زاخیل دا پنځوس کاله دپښتو د نظم او نثر په ډګر کي پیش قدم شخصیت او منلي وُ، څو کاله پخوا چي ما لومړي پلا د پښتو شعر تاریخچه نشر کړه. هلته ما راحت د پښتو ادب له ارکانو څخه بللی وُ. چي د نوي ادبي نهضت په طلیعه کي خپلي ژبي ته نه هېرېدونکي خدمتونه کړيدي.

راحت دپښتو په صحافت او لیکوالۍ کي هم پیش قدم وُ. خلویښت کاله دمخه ئې له پېښوره یوه مجله نشر کړه چي نوم ئې وُ (سترې مشي)

وروسته په پښتو ادب کې دې شاعر او اديب په لسو کتابونه چاپ او نشر کړه چې لغات افغاني ئې تر اوسه لاهم کتهور او د ليدو وړ کتاب دئ.

راحت د خپل عمر اتيا کاله په تفکر او مطالعه او د ژبې او قام په خدمت کې تير کړه، لس کاله مخکې چې ما لومړې پلا راحت وليد، د ستر گو په لچ د پېښور په شفاخانه کې پروت و زه ئې پوښتنې ته ورغلم. ده افسوس کاوه چې ما نه سې ليدلاې. خو ما يوسپين زيړى او فکور پښتون ليدئ چې بنيه ئې ډيره قوي نه وه خو روح ئې قوي او گړندى و. د ده خبري اثر ناکې وې، دردمن زړه او مشتعل احساس ئې درلود. ده زه نه ليدم سترگې ئې طبيبانو ورتړلې وې مگر د زړه سترگې ئې بينا وې يو ساعت ئې زما سره هغه څه وويل: چې يو اشنا پښتون ئې له خپله پښتانه وروره سره وايي، دى د يوه پاخه او زاړه استاد په ډول د پښتو اينده زمانې ته خوشبين و. او ويل ئې: گومان کيږې چې زموږ د نوې نسل اديبان به د خوشحال او رحمان ډيوه روښانه کړي، د اجمل او قلندر او رسا او شيدا فکرونه به نوې ډېوې بلې کړي. او نوې خلمې به خانته يوه خلمې دنيا جوړه کاندي.

راحت په پښتو ادب کې تکړه نثر ليکونکى او ناول وال او مترجم او لغت نويس او صحافي و، مگر زه دده د هنر مهم اړخ د ده غزل گڼم، اوپه اوسنې عصر کې د پښتو غزل له استادانو څخه بولم.

د راحت په غزل کې تازه افکار، بديع مضامين، روانه او پرېوللې ژبه، درد او سوى موجود دئ. هر مضمون په ادبې قدرت په معمولو او مصطلحو عباراتو اداء کولاى سي دژبې بلاغت او ادبې سنن ساتې او کله کله دفارسي شعر ټوټې په داسې ډول په پښتو شعر را اوړوي. چې سړى ئې ترجمه نه بلکې اصيل شعر وگڼي مثلاً دمرحوم علامه اقبال يوه مشهوره غزل ده:

لاله این چمن الوده رنگ است هنوز
سپر ازدست مینداز که جنگ است هنوز

**راحت وایي :**

د لاله مخ دی لړلی لا په رنګ
توره مه ږده چي لا سته میدان د جنګ

**اقبال وایي :**

باش تا پرده گشایم زمقام دیگري
چه دهم شرح نواها که بجنگ است هنوز

**راحت وایي :**

صبر وکه چي په بل تار ګوته کیږدم
درته واوروم دنوي رباب ترنګ

**په لومړي بیت کي راحت زاخیلي پښتني روح ځای کړیدی او د سپر پرځای ئې توره راوړیده ځکه چي سپر فقط دفاعي کیف لري خو توره د پښتني عنعني سره برابره ده.**

**د راحت په غزل کي خوند رنګ رواني او رندي ټوله لیدل کیږي د یوې غزلي څو بیته ئې واورئ :**

چي صورت دي سي دبل ستا منشاء داده
پرېږدم مینه دغیرت تقاضا داده

ځان مي خاوري ایري کړو دچاپه درکي
بیا لا هـــم دئ بد ګمان تماشا داده

دوست دښمن زما په غم ژاړي اوته خو
سترګي نه را اړوي، نو ژړا داده

چي سره وینه دګلاب په مخ کي خوند کړي
خون روا دی، دخسته وو دعوا داده

چي د مخ په شمع ئې توري زلفي تاو خوري
خلقه گورئ ! تياره داده روڼا داده
شيخ په گوټ کي وايي د نفس سره غزا کړم
چي شي تورو ته ور وړاندي غزا داده
ستا تهمت باندي راحت وژني ډير شور دی
سر په بام کړه راښکاره تماشا داده

**د راحت د ميني په ژبه د خپل قوم سره راز ونياز لري او دغه د غيرت تقاضا گڼي په رمز او ايما د ميني داستان لولي ! او رندانه مزاج ئې هلته ښه ښکاري چي زاويه نشين شيخ د نفس له غزا څخه د تورو ميدان ته راباسي د لوړي غزلي مقطع د فارسي د يوه مشهور بيت مضمون دئ، چي په پښتو ژبه ئې ډير قوت اداء کړي دئ.**

بجرم عشق تو ام ميکشند وغوغائيست
تو نيز برسربام اه، که خوش تماشائيست

**د راحت اکثري غزلي له دغو اشاراتو او رندانه جذباتو ډکي دي چي په يوه بله غزل کښي وايي :**

څه په هغه چيغو چي در ونه رسي تاته
څه په هغه اه کړم چي دي رانه ولي ماته
ستا دمخ قبلې ته چي يو ځل مي دی مخ کړي
خدايگوغورځولئ مي دي دين او دنياشاته
عمر خو دي تېر کړ په ما خداي خبر چي څه ته
هره ورځي وايي چي به خوله درکړم سبا ته
خوشي دا متل سي چي دزړه وي زړه ته لاره
ما پهٔ اسويلو چيري ته را نه وستې ته خواته

زه ئې هسي هم د مخ برېښنا ته کتی نه سم
داپه ژوبل زړه ګزار لابل ګوري حیاته

ما چي دهجران غشي دملا په تیر خوړلی دی
خداي دي دچا نه کړي په بیلتون هسي ملا ماته

چا چي داشناد مخ ډیوه کړه زړه کي بله
هیڅ حاجت ئې نسته دی د لمر سپوږمۍ رڼا ته

**دغزلي په پاي کي بیا راحت خپله رندانه چهره ښکاره کوي :**

تاسي ته قران لولي راحت سره شراب څښي
یه ساده مخلوقه ! راشي وګورئ ملا ته

**راحت په دې رندانه منطق کي د شرقي شاعرۍ د استادانو تر اثر لاندي دي دحافظ او خیام او جامي او نورو رند مشربو شاعرانو په ډول کله پر ریاکارانو باندي ورغورځي او لکه حافظ چي ویلي وو :**

باده نوشی که درو روي و ریایي نبود
بهتر از زهد فروشي که درو روی و ریاست

**راحت هم وايي :**

عبث ځان ته يې مغروره ئې شیخانو !
خبرئې چي عبادت مو ریا لوټ کړ

**د دې وینا په پاي کښي زه د راحت روح ته درودونه استوم او دده د یوې مستي غزلي څو بیتونه راوړم :**

ته ددې اوده قسمت مي ویښولو لره راسه
ژړېدونکي دي قسمت ته خندولو لره راسه

ای ساقي ! ستا دي سوګند وي نن زما په وچو شونډو
چي دا جام دبېخودۍ دي بیا څښلو لره راسه

هر آواز دهر یو تار مي درباب تاپسي گرزي
دخوړو خوړو سندرو اوروڵو لره راسه

داسینه مي دي تل دکه ستا له میني محبت وي
راسه راسه داسي راسه چي نه تللو لره راسه

دا ارواښاد راحت په یاد ما دا څو کرښي ولیکلې چي د ده د هنر یو وړه پلوشه ده خو راحت د پښتو ادب په دنیا کي نه هېرېدونکی سړی دئ، او د ده دا دعا د تکرار وړ ده (۱) :

ستا گلونه د سیني دي خداي وسپړي
که راحت ئې باغوان نه وي نه دي وي

(۱) د افغان یاد، د ۱۳۶۰ چاپ، کابل پوهنتون، ص ۱۱۱ _ ۱۱۳.